ليکونکی: محمد سعيد سعيدي

۰۲ مارچ ۲۰۱۵

## څه چې کړي هغه به ريبی

### دزندانيانو په اړه دبشردحقوقو راپور

دزندانيانو په اړه دبشری حقوقو کميسون يو راپور خپورکړ چې په هغه راپورکي ويل شوي دی چې دافغانستان امنيت ملی سياسی بنديان شکنجه کړی دی اوقانونی چلند ورسره نه دی شوی اودبشردحقوقو پايمال کړی دی .

ښاغليو کله چي زندانيانو ته شکنجه ورکول کيږی يوازی داعتراف په خاطر چې په جرم باندی اعتراف وکړی اودځارنوال دمطالبی سره سم متهم مجازات کړی اوپه بنديي محکوم کړی راځو ديته چې په شکنجی سره اعتراف دمحکمی په وړاندی اعتبارلری اوکنه ؟ دغه موضوع دافغانستان اونړيوالو قوانينو په چوکاټ کي ترمطالعی لاندی نيسو

اول : اقرار او اعتراف دافغانستان دنافذه قوانينواواسلامی شريعت په چوکاټ کي بايد په خوښه ، آزاده فضاء، دصحت او عقل په حالات کي اودقاضی پروړاندی بايد وي چې په دې اړه دافغانستان اسلامی جمهوری دولت دجزايي اجراآتو قانون مادی مکمل وضاحت لری وايي چې

دويم : کوم اقرار اواعتراف چې په زوره واخستل شي دشرعی اوقانونی اعتبار نه لری چې په دې اړه دافغانستان اساسی قانون (۳ت لری وايی چې

دويم : کوم اقرار اواعتراف چې په زوره واخستل شي دشرعی اوقانونی اعتبار نه لری چې پّ دې اړه دافغانستان اساسی قانون (۳۰) ماده اوشرعی مسئله چې ( بنا الاقرار الحاصل بالجبري و الاکراه لا يصح ) مکمل وضاحت لری

دريم : دافغانستان اساسی قانون (۲۹)ماده دانسان تعذيب تر روحی فشار لاندی راوستل روانه ګڼي

څلورم : داعتراف بالجبر په اړه اسلامی فقه په وضاحت سره وايي چې (الاقرار يکون بين يد القاضي و الا لم يعتبر)

پنځم : بحر الرايق اول جلد داعتراف بالجبر په اړه وايي چې :( لا يعتبر الاقرار عند غير الحاکم. ولو کان اربعه مرات )

شپږم : په نړيوالو بشری حقوقو کي هم دزوراوفشار اعتراف دمنلو وړ نه دی چې په دې اړه دنړيوالوميثاق مدنی اوسياسی حقوق( ۳) فقره (ز)بند (۱۴) ماده وايي چې ( متهم و مظنون مجبور نشود که عليه خود شهادت دهد و يا به مجرم بودن اعتراف نمايد )

دغه موضوع مي مشت نمونه خروار وړاندی کړه راځم دیته چي دافغانستان حکومت سیاسی بندیانو ته حقوق اوامتیازات ورکوی ملاقات دخپلو بندیانو سره کولی شي وکیل ورته ټاکلی شی پیسی ورکولی شي تیلفونونو باندی دملګرو اودوستانو سره اړیکه نیولی شی اوهمداسی نور داچي په اوسنی وخت کي سیاسی بندیان هم ځان له پاره داسلامی امارت دعوا کوي اودشریعت دپلوي کولو مدعیان دی دوی دبندیانو سره چي په عمومي لارکي انسانان له موټره کوزه وي نیسی اوبیا یي په هماغه ځای کي تری سرونه کټ کوی داکوم شریعت دی ؟ اوکومه محکمه ؟ په داسی حال کي چي دوی داسلام مدعیون هم دی هلته بیا بشری حقو ق چرته دی ؟ انسانی کرامت چیری دی ؟ اویوه عادلانه محکمه کوم ځای کي دی؟ دژوندیو انسانانو سوزول په کوم فرهنګ موجود دی ؟ خو دامارت دعوه کونکی دغه کار کوی دولت خو څوک مړه نه دی کړی یوازی یو څوسوکونه اوځپیری به یي وهلی وی خو دبشر حقوقو غوغا جوړه کړی دی څوک خو یي حلال  نه دی کړی کوم عمل چي اسلامی امارت کوی هغه عمل خو دولت نه دی ورسره کړی باید دوی ددولت شکرګزارشی چي په هماغه ځای کي قطره نه کوي کوم کړنی چي دقندهارامنیه قومندان  ورسره کوي نو بیا دي بشری حقوقو چیغی کړی وای په داسی حال کي چي دقندهار دامنیه قومندان په خیر اعمال یي نه دی کړی که کړی وای بیا به په ټول افغانستان کي دقندهار په شان امن وای اود بشر حقوق به هم ددغه ویرنه خلاص وایی ځکه چي پښتو کي متل دی چي کړی خولی په سوک سمیږی بشری حقوق دهغه چا له پاره چي هغه بشری حقوقو اوډیموکراسی  ته معتقد وی ځوک چي بشری حقوقو اوډیموکراسی ته معتقد نه وی نو  هماغه زوراوهماغه کوتک اوس هم دولت ورسره انصاف کوي.

***یادداشت:***

*بدون آن که هدف از تأئید تمام آنچه کمیسیون های حقوق بشر افغانستان و یا هم ملل متحد می گویند در بین باشد، زیرا امروز کاملاً مانند روز روشن شده است، که تمام چنین نهاد هائی که می بایست در خدمت رفاه و آرامش انسانها قرار گیرند، در عوض به مثابۀ نیروی پنجم و جاده صاف کن استعمار عمل نموده اند، باید بیفزائیم:*

*۱ - موجودیت شکنجه و آزار متهمان در داخل زندانهای افغانستان به حدی بوی گندش بالا شده بود که حتا کمیسیون نام نهاد حقوق بشر افغانستان و ادارۀ مشابه آن در سطح بین المللی نیز نتوانست، آن را انکار نماید.*

*۲ - ما نباید به خود اجازه بدهیم تا حین قضاوت در امر بدی، به جای آن که امر بد را با خودش مقایسه نموده حکم به بدی آن صادر نمائیم، در پناه اصل نسبیت و دامن فراخ آن، عمل بد را با بد تر مقایسه نموده، در ختم کار به نحوی به مبلغ امر بد مبدل بگردیم.*

*۳ - پورتال «افغانستان آزاد- آزادافغانستان» افتخار دارد اعلام می دارد که از همان نخستین روز های ایجاد تا اینک، بدون کدام تزلزلی ضمن محکوم نمودن اشغالگران و جنایات آنها، طالب و دولت پوشالی کابل را، به مثابۀ نوکران اشغالگران مشخص نموده، هر دو طرف را دشمنان مردم و میهن اعلام داشته جنایات آنها در حق مردم مظلوم و هردم شهید ما، محکوم می نمائیم.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*